بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سر یال نمبر: 526

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# ټانک: د امنیتي ځواکونو تر ټولو بریالي ګډ عملیات 3 خوارج له ټي ټي پي سره تړاو لري

د ټانک په مضافاتي سیمه بهګوال کې د ترهګرو د نقل و حرکت په اړه د اطلاع په ترلاسه کولو سره د امنیتي ځواکونو او پولیسو په مشترکه کاروای د ترهګرو سره په نښته کې درې خوارجیان ووژل شول ـ وسلې، چاودېدونکی توکی، مخابراتي وسایلو او موټرسایکلونو برآمد شوي ـ

**د پټو معلوماتو پر اساس د امنیتي ځواکونو او پولیسو ګډې ډلې د ترهګرو د احتمالي تګ راتګ په لاره کې کمین نیولی وو او هغه مهال یې په نښه کړل چې د ترهګریزو کړنو په لپاره روان وو ـ د ډزو په تبادله کې مطلوب ترهګر عظمت او په موټر سایکل سپاره درې خوارجان په موقع وژل شوي دي ـ**



**ترهګر عظمت د سیشن جج په تښتولو او د هغه موټر ته اور اچولو کې لاس درلود ـ د وژل شوو ترهګرو تعلق د ټي ټي پي ګنداپور ډلې سره دی چې په بهته اخیستو، هدفي وژنو، د پولیسو په مرکزونو او چارواکو باندې په بریدونو او ګڼو ترهګریزو فعالیتونو کې لاس درلود چې د سیمې اوسیدونکي یې په وژل کیدو امنیتي ځواکونو ته خراج تحسین ورکوي ـ**

په ټانک او شاوخوا سیمو کې خوارج د امنیتي ځواکونو او پولیسو د جارحانه کړنو له امله له سخت خپګان سره مخ دي او ورځ تر بلې په دوزخ ته استول کیږی. چې په دې کې مربوط استخباراتي شبکه او د ځایي خلکو رول ډېر مهم دی ـ انشاءالله د خوارجو د ناپاکو ارادو د شنډولو لړۍ به دوام ولري ـ

مورخه: ۲ مئی ۲۰۲۴ء